# د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه

## د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون کتنه

**سریزه**

د طالبانو د مؤقتي حکومت یوه له ځرګندو ځانګړتیاوو څخه د بې‌شمېره قوانینو او فرمانونو نافذ کول دي چې د افغانستان د وګړو د اساسي بشري حقونو پراخي سرغړونې ته لاره هواروي. په یوه نوي مورد کې، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون (د رسمي جریدې ۱۴۵۲ نمبر) چې د دې مؤقتي حکومت لخوا خپور شوی دی، له مختلفو اړخونو څخه د عدالت، بشـري حقونو، او د افغانستـان د وګړو د فرهنګي، ټولنیز او مذهبي اخلاقو له اصـولو سـره په ټکر کې دی. دا حقوقي یادداشت په اساسي بشري حقونو د سرغړونې، په خصوصـي حریم کې نامؤجي لاسوهنې، او د قانون د حاکمیت له اصولو سره د ټکر په ټینګار سره د دې اختلافاتو ته اشاره کوي.

### 1. د اساسي بشري حقونو سرغړونه او په ځانګړې توګه د جنسیتي اپارتاید پیاوړې کول

د دې قانون یوه له مهمو اړخونو څخه د ښځو د حقونو پراخه سرغړونه ده. یاد قانون د ښځو پر وړاندې توپیر او جنسي اپارتاید په پراخه توګه قانوني کوي. د مثال په توګه، په دې قانون کې پر ښـځو د لباس په ډول باندې سـخت محدودیتونه وضـع شـوي او د ښځو غږ د "عورت" په توګه تعریف شـوی دی. دا ډول مقررات نه یوازې له قانون سره د برابرۍ له اصل سره په ټکر کې دي، بلکې له اساسي بشري حقونو سره هم په تضـاد کې دي. ځکه چې د بشـري حقونو څخه ګټه اخیستنه، لکه د ازادۍ، ټولنیزو او اقتصـادي حقونو، ټولنیز تعامل او د خلکو سره اړیکې ته اړتیا لري. دا قانون د ښـځو غږ د منع کولو او د هغوی د ازاد حرکت د حق محدودولو سره په حقیقت کې د ښـځو د ټولو حقونو څخه د ګټې اخیستنې لپاره زمینه له منځه وړي، ځکه چې پرته له تعامل او حرکت څخه ټولنیز، اقتصـادي، یا کلتوري او مدني فعالیت ناممکن دی. خو د دې قانون روحیه په دې اصل ولاړه ده چې ښځې باید یوازې د کور په قلمرو کې پاتې شي، او دا ډول چلند له ښځو سره د جنسي اپارتاید ښکاره بېلګه ده.

### 2. په خصوصي حریم کې نامؤجې لاسوهنه

دا قانون د طالبانو د مؤقتي حکومت عاملینو (محتسبانو) ته اجازه ورکوي چې د افرادو په خصـوصـي حریم کې مداخله وکړي، د لباس په ګډون د سـر او مخ د اصـلاح اړوند هم مداخلې کوي. د افغانسـتان په کلتور کې د افرادو خصـوصـي حریم تل د درناوي وړ ګڼل شوی او لاسوهنه په کې ناخوښه ګڼل کیږي. خو دا قانون په صراحت سره هغه کړنې قانوني کوي چې محتسبانو ته اجازه ورکوي چې د خلکو په شخصـي او خصـوصـي چارو کې مداخله وکړي او یا هغوی د زور په وسیله مجبور کړي چې شرعي مکلفیتونه لکه لمونځ ترسره کړي. دا کړنه نه یوازې د افرادو خصوصي حریم، بلکې د هېوادوالو انساني کرامت ته هم زیان رسوي.

### 3. د قانون د حاکمیت له اصولو سره په ټکر

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون برعکس د پېژندل شـویو حقوقي او قانوني اصـولو جوړ شـوی دی. د قانون د حاکمیت له مهمو اصـولو څخه یو دا دی چې د خلکو حقونه او ازادۍ سـاتنه وشـي او د خپل سـري نیولو او تلاشـي مخه ونیول شي. پداسې حال کې چې دا قانون د محتسبانو لاس د خلکو په خصـوصي حریم او شخصـي ازادیو کې د لاسوهنې لپاره خلاص کړی دی، خو د محتســبانو د کړنو د څېړنې لپاره هیڅ عدلي او قضـــایي کرنلاره نه ده ټاکلې. چې دا کار کولی شي د قدرت له پراخه ناوړه ګټې اخیستنې او له عدلي او قضایي بهیر سره د ټکر لامل شي.

### 4. د اسلامي اخلاقو او د فرهنګي او ټولنيز جوړښت سره ټکر

دا قانون د افغانستان د خلکو له اسلامي او ټولنيزو اخلاقو سره په ټکر کې دی. د افغانستان ښه او منل شوي عرفونه، مصلحتونه، نورمونه او ارزښتونه لکه د انساني کرامت درناوی او د خلکو څخه د آزار او سپکاوي نه منل، ټولنيز او انساني پرمختګ او سوله ييز ژوند ته زمينه برابروي. خو دا قانون د افغانستان د خلکو اسلامي او ټولنيزو اخلاقو په خلاف، د شريعت له سخت تفسير څخه په کار اخيستنې سره د "معروف او منکر" مفاهيم په ډيره لنډه توګه بيا تعريف کوي او د دې نقض جرم ګرځوي. د ښځو د غږ منع کول، يا هغوی په ځانګړې ډول د لباس کولو مجبورول، او يا د انساني کرامت خلاف کړنو د قانوني کولو په شان محدوديتونه، چې د افغانستان په کلتور کې مرسوم نه دي، قانوني کوي. له همدې امله، دا قانون د هېوادوالو د اسلامي او ټولنيزو روادارانه اخلاقو او عرفونو له صحيح درک څخه د ناسم پوهاوي څرګندونه کوي.

### 5. د کلتور، هنر او ټولنيز نظام سره ټکر

ګډ کلتور، په شمول د کلتوري اثارو او هنر، د ټولنو ګډ ميراث دی او په اصل کې حکومت مکلف دی چې د کلتور او هنر د پرمختګ لپاره زمينه برابره کړي. خو دا قانون د افغانستان د خلکو ډيری کلتوري مظاهر او لاس ته راوړنې، لکه موسيقي، نقاشي، فلم، او عکس او مجسمه سازي منع کوي. له دې امله، دا قانون د کلتوري ميراث لپاره جدي ګواښ دی او د هنر له زوال او له افغانستان څخه د هنرمندانو له تېښتې سره مرسته کوي. له بلې خوا، کلتور له ټولنيز هويت سره تړاو لري، او هر ډول هڅه چې د دې له منځه وړلو لپاره وشي، له خلکو سره په ټکر کې ده.

### 6. د تقنيني پرمختګونو سره ټکر

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون يوه له مهمو ضعفونو څخه د ټولنيزو پرمختګونو او د زمان او مکان اړتياوو ته نه پام دی. دا قانون د ديني تعليماتو له افراطي تفسيرونو څخه جوړ شوی او له عصري ټولنيزو او حقوقي تحولاتو سره هيڅ ډول توافق نه لري. په داسې حال کې چې په ډېرو اسلامي هېوادونو کې، قوانين چې له فقهي او نورو حقوقي منابعو څخه اخيستل شوي، د زمان او مکان له اړتياوو سره سم او د ټولنيزو او حقوقي پرمختګونو په نظر کې نيولو سره بياکتنه او تازه کيږي. د بيلګې په توګه، د ښځو زده کړې او ټولنيزو او سياسي حقوقو په څېر موضوعات چې په نورو اسلامي هېوادونو کې نافذ شوي او په قوانينو کې ځای شوي دي. همدارنګه، ټول اسلامي هېوادونه د بشري حقونو نړيواله اعلاميه او اړونده کنوانسيونونه منلي او هڅه کوي چې په خپلو ملي قوانينو کې دا اصول رعايت کړي. خو د طالبانو نوی قانون، د شرعي تعليماتو له وروسته پاتې تفسيرونو څخه په کار اخيستنې سره، د افغانستان ټول قانوني، حقوقي او ټولنيز پرمختګونه له پامه غورځولي او د زمان او مکان د اړتياوو پر ځای، د هېواد د انساني پرمختګ مخه نيسي. دا چلند به افغانستان په اسلامي او نړيواله ټولنه کې له انزوا سره مخ کړي، ځکه چې دا هېواد به له نړيوالو حقوقي او ټولنيزو پرمختګونو څخه وروسته پاتې شي.

د پورتني ياد شوي موارد په پام کې نيولو سره، دا روښانه ده چې د طالبانو د مؤقتي حکومت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون، د اساسي بشري حقونو د پامه غورځولو، په شخصي حريم کې مداخلې، او د قانون د حاکميت له اصولو سره د ټکر له امله، له عدالت، اسلامي او ټولنيزو اخلاقو، او حقوقي او فقهي پرمختګونو سره پراخې ستونزې لري. د دې قانون اجرا کول نه يوازې د بشري حقونو سرغړونه ده، بلکې د افغانستان د خلکو لپاره يو جدي ګواښ دی.

له همدې امله، د بشري حقونو ملاتړکوونکو ټولنه، لاندې غوښتنې لري:

- ✓ د بشري حقونو ملاتړکوونکو ټولنه باور لري چې د طالبانو فرمانونه، په ځانګړې توګه دا نوی قانون، د افغانستان د حقوقي فلسفې او حقوقي نظام اساسات چې د لسګونو کلونو د کار او دولت جوړونې پايله ده، په جدي توګه زيانمن کړي دي. د بشري حقونو ملاتړکوونکي له ملي او نړيوالو حقوقي بنسټونو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې په دې اړه جدي غبرګون وښيي او تخصصي سپارښتنې بايد د قوانينو او نړيوالو اړيکو په اړه مسوولينو ته وړاندې شي.

- ✓ موږ د ملګرو ملتونو او نړیوالو بشري حقونو سازمانونو نه غوښتنه کوو چې په بشري حقونو د نقض په مستندولو او د بشري حقونو د جدي سرغړونو په تعقیب کې جدي او ځرګند ګامونه پورته کړي. په دې برخه کې دوه غوښتني دي: یوه د بشري حقونو د سرغړونکو د حساب ورکولو لپاره د یوه میکانیزم رامنځته کول او بله د بشریت ضد جرمونو په اړه تحقیقاتو تعقیب کول دي. له ۲۰۰۷ کال راهیسې چې نړیوال جنایي محکمه د افغانستان کې د بشریت ضد جرمونو د تحقیقاتو غوښتنه کړې، افغانان د دې محکمې پرېکړو ته په تمه دي. موږ نړیوالې جنایي محکمې ته یادونه کوو چې د ۱۷ کلونو تحقیقاتو وروسته، د عمل وخت رسیدلی دی. محکمه باید د افغانستان کې د بشریت ضد جرمونو د مرتکبینو محاکمه وکړي او هغوی ته مصئونیت پای ته ورسوي.
- ✓ موږ د آزادو رسنیو نه غوښتنه کوو چې د طالبانو د دیفکتوي حکومت د پالیسو، قوانینو، او اقداماتو د خپرولو او راپور ورکولو سره، د بشري حقونو د جدي سرغړونو د عادي کولو مخه ونیسي. رسنی باید د دې سرغړونو ځرګندولو سره د بشریت ضد جرمونو او جنسیتي اپارتاید د عادي کولو مخه ونیسي.
- ✓ د بشري حقونو سرغړونه او جنسیتي اپارتاید په هیڅ ډول د یوې هیواد داخلي مسأله نه ده. زموږ ملګري په مدني ټولنه کې باید د ځیرنې، معلوماتو ورکولو، او پراخو مدني مبارزاتو سره د دې قوانینو او جرمونو قربانیانو غږ نړیوالو ته ورسوي.
- ✓ موږ د دیفکتوي حکومت نه تمه لرو چې دغه قانون لغوه کړي او د ښهرواندان د حکومت پر وړاندې د امر به معروف زمینه په دې ډول برابر کړي چې د غونډو، مظاهرو او نورو مدني فعالیتونو له لارې خپله غوښتنه وړاندې کړي.